SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپریږی
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتي ارګان
څلورم کال پنځوسمه ګڼه پرله پسي (۲۴۰) یکشنبه د۱۴۲۰ هـ ق کال د ربیع الاول (۲۷) د۱۳۷۸ هـ ش کال د چنګاښ دمیاشتي(۲۰) د۱۹۹۹ میلادي کال دجولاي (۱۱)

اظهارات عالیقدر امیر المؤمنین در رابطه به هشدار اخیر حکومت امریکا :

در امارت اسلامي افغانستان هر کس مصؤن بوده و کسیکه به تعهدات امارت اسلامي داخل خاك افغانستان شود در حفظ و امان است

عالیقدر امیر المؤمنین طي بیان مطبوعاتي در رابطه به اظهارات اخیر حکومت امریکا که گفته است امریکائیان نباید به افغانستان بروند زیرا در آنجا امنیت نیست. چنین اظهار داشتند : در امارت اسلامي افغانستان هر کس مصؤن بوده و کسیکه به تعهدات امارت اسلامي داخل خاك افغانستان شود در حفظ و امان است و امریکا این اظهارات را بخاطري نموده است که نشان بدهد گویا در افغانستان امنیت نیست. و امارت اسلامي را بدین نسبت متهم بسازد. ازین سبب این اظهارات را نموده است.

عالیقدر امیر المؤمنین فرمودند : اکنون نیز در افغانستان در انجو هاي مختلف اتباع امریکایي کار مینمایند و هیچگونه خطر متوجه شان نیست.

امریکا میخواهد از براه انداختن چنین تبلیغات استفاده سؤ نماید و تبلیغات آنان درین رابطه بي اساس بوده زیرا هرکس که در افغانستان کار و زنده گي مي نماید در امن بوده و مصؤن میباشد.

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

عالیقدر امیر المومنین محترم ملا محمد عمر «مجاهد» له شریعت اوونیزی سره په مرکه کی :

د هر ښکیلاکګر هرډول جائزه غوښتنه منل اسلامي او ملي حیثیت تر پوښتني لاندی راولی

واك په اصل کې د هیواد د خدمت یو امانت دی

د انقلاسیون د پای ته رسولو موضوع تر غور لاندی ده

مجاهد او مسلمان صاحب منصبان د خاوری او عقیدی په ساتنه کی فعال رول لوبوی

کشمیری مسلمانان د خپل اسلامی وقار او سوکاله ژوند په لټه کی دی

درنو او محترمو لوستونکو !
د شریعت اوونیزی استازی د هیواد د سیاسی، نظامی او اقتصادی وضعی او د بو شمیر بین المللی مسایلوپه هکله له عالیقدر امیر المومنین محترم ملا محمد عمر «مجاهد» سره مرکه کړیده چی لوستلو ته یې ستاسی پام را اړوو.

پوښتنه : دا موجوده کابینه چی سرپرست وزیران او سرپرسته شوری ده دا به کله رسماً وټاکل شی او د سرپرستی اداری ځای به دایمی اداره ونیسي ؟

ځواب : اوس هم ددغی کابینی غړی رسمي ټاکل شوی دی .

پوښتنه : ځنی خلک ګیله کوی چی اسلامي امارت ملکی چارو ته ډیره کمه توجه کوی تاسی په دی اړه څه وایی ؟

ځواب : سره له دی چی د هیواد په یوه کونج کی لا د جنګ عاملین شته دی خو بیا هم اداري چاري بی توجه شوی نه دی ممکن ددغو ګیله کوونکو تخمین د بی خبری له خاطره درست نه وی .

پوښتنه : ځنی خلک ګیله کوی چی اسلامی امارت عصری تعلیم او دینی تعلیم ته په دوه سترګو ګوری او په ۴ مخ

جزاي تعزیري بر یکتن رشوه ستان تطبیق گردید

جزاي تعزیري بالاي یکتن رشوه گیرنده در شهر گردیز بحضور داشت صد ها تن از شهریان آنجا تطبیق گردید.

به گزارش خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت پکتیا ، اسامي سید نور فرزند سید صبر باشنده شهر نو ولسوالي چمکني و کارمند ولسوالي که اخیراً در بدل اجراي کار یکتن از مراجعین مبلغ هشتصد هزار افغاني رشوت اخذ مي نمود بر اساس اطلاع قبلي نامبرده توسط موظفین آمریت استخبارات ولسوالي چمکني باالفعل دستگیر و غرض تحقیق به ارگان مربوط معرفي گردید.

یك منبع مربوط گفت مجرم در جریان تحقیق خویش بدون جبر و اکراه بجرم خویش اعتراف نمود که حکم محکمه نظامي ولایت پکتیا با ص ۴

مطبوعات باید زموږ خبری غلطی منعکسی نه کړی

مولوي وکیل احمد «متوکل»

شریعت : د افغانستان د اسلامي امارت د مقام سلاکار او ویاند محترم مولوي وکیل احمد متوکل د ځنو هغو خلکو په ځواب کي چي داسي تور لګوي چي ګویا د اسامه د موضوع په اړه د اسلامي امارت د چارواکو د ویناوو تر منځ ټکر او تعارض موجود دي وویل چي مطبوعات باید زموږ خبري غلطي منعکسي نه کړي محترم متوکل پرون د شریعت اوونیزي له خبریال سره د یوې مرکي په ترځ کي وویل چي زموږ دریځ اصولي دي او زموږ په دریځ کي ۴ مخ

به سلسله مبارزه علیه مواد مخدر :

بیش از دو جریب زمین از بته هاي چرس پاکسازي شد

موازي بیش از دو جریب زمین اخیراً توسط مسؤولین امور در مربوطات ولایت سرپل از کشت بته هاي چرس پاکسازي گردید .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت سرپل خبر میدهد : در اثر توجه و مواظبت مسؤولین امور ولسوالي سید آباد ولایت سرپل بمنظور مبارزه علیه مواد مخدر اخیراً موازي بیش ۴ مخ

د چمن له لیاري یو سل او څلور اتیا کورني هیواد ته راستني شولي

د هیواد غیږي ته زموږ د مهاجرو هیوادوالو د راستنیدو په لړ کي پرون یو سلو څلور اتیا کورني د پاکستان د کراچي له ښار نه د کویټي او چمن له لاري د کندهار ولایت ته راستني شوي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ زموږ دغه هیواد وال چي د هیواد د ډیرلسو ولایتونو اوسیدونکي دي د کندهار په ښار کي د افغانستان د اسلامي امارت او د مهاجرینو په چارو کي د ملګرو ملتو د عالي کمشنري د لازمو مرستو له تر لاسه کولو وروسته خپلو اړوندو ولایتونو ته ولیږدول شول.

افغانستان ته زموږ د مهاجرو هیوادوالو د بیرته راستنیدو لړي روانه ده .

د سرپل ولایت په مرکز کي :

د څلور سوو کیلو واټو بریښنا په ظرفیت دوه جنراتورونه فعال شول

د اسلامي امارت د نیکو او عام المنفعه اقداماتو په لړکي په دي وروستیو وختو کي د سرپل ولایت په مرکز کي د څلور سوو کیلو واټو بریښنا په ظرفیت دوه جنراتورونه فعال او څلور سوه کورني له بریښنا نه برخمني شوي.

د سر پل له ولایت نه د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ په ۴ مخ

د کندز ولایت د هوایي ډګر د هوا پوهني دستګاه بیا احیاء او د استفادي وړ وګرځیده

د کندز ولایت د هوایي ډګر د هوا پوهني د اداري دستګاه په دي وروستیو وختو کي بیا ترمیم او د استفادي ور وګرځیده .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ ددغي دستګاه سامان آلات چي پخوا د مفسدو عناصرو او ملیشو له خوا لوټ شوي او دستګاه غیر فعاله شوي وه په دي ۴ مخ

جلسه توضیحي و تشریحي مسؤولین و آمرین دعوت و ارشاد وزارت خانه ها دایر گردید

جلسه توضیحي و تشریحي مسؤولین و آمرین دعوت و ارشاد وزارت خانه ها و ادارات دیروز در مقر وزارت امر به معروف و نهي از منکر تدویر گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: در جلسه مذکور که بعضي از هیأت رهبري و رؤساي وزارت امر به معروف و نهي از منکر، مسؤولین ادارات و آمرین دعوت و ارشاد اشتراك ورزیده بودند ابتدا آیاتي چند از قرآن عظیم الشان قرائت گردیده بعداً محترم ملا امیر خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور، محترم مولوي محمد سلیم حقاني معین مسلکي وزارت امر به معروف و نهي از منکر و ص ۴

محترم الحاج سید محمد عمر شهید رئیس پوهنتون هرات در مصاحبه با خبرنگار هفته نامه شریعت :

پوهنتون هرات در هفت پوهنځی یکهزار محصل دارد

هیچ موسسه خارجي با پوهنتون هرات همکاري ننموده است

شهر باستاني هرات داراي تاریخ کهن و معاصر بوده نهفته هایي در گوشه و کنار خود داشته و ساحه وسیع کشور عزیز ما را احتوا میدارد که در راستاي آن مي توان پوهنتون و مؤسسات تحصیلي و مدارس تعلیمي را یاد آوري نمود.

خبرنگار هفته نامه شریعت با محترم سید محمد عمر «شهید» رئیس پوهنتون هرات نشسته و داشته ها و کار کرد ص ۴

کورس آموزشي اساسات اداري در ولایت پکتیا دایر گردید

کورس آموزشي اساسات اداره دیروز در ولایت پکتیا دایر گردید .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر گردیز خبر میدهد کورس متذکره با تلاوت آیات چند از کلام الله مجید آغاز گردیده بعداً محترم مولوي محمد شفیق والي ولایت پکتیا و محترم ملا عبدالولي مجاهد معاون ریاست کار و امور اجتماعي بالترتیب پیرامون ارزشمندي و ضرورت تدویر همچو کورسها در جهت ارتقاي سطح دانش مسلکي کارمندان ادارات ولایت پکتیا به تفصیل صحبت نمودند.

کورس مدت ۳ روز ادامه داشته در آن برخي از کارمندان مرکز و ولسوالي ولایت پکتیا اشتراك دارند.

د کابل د طب انستیتوت د اړوندو پوهنځیو وروستي ازمویني پیل شوي

د کابل د طب انستیتوت د طبي پوهنځیو د تحصیلي سمستر وروستي ازمویني پرون پیل شوي.

د لوړو زده کړو وزارت علمي او تدریسي معین محترم قاري ذبیح الله زاهد په داسي حال کي چي د کابل د طب انستیتوت رئیس محترم مولوي محمد فاضل او د لوړو زده کړو وزارت د مشرتابه هیأت ځیني غړي هم ورسره و د ازموینو بهیر وکوت.

د محصلانو په چارو کي د کابل د طب انستیتوت مرستیال محترم مولوي محمد ظریف د باختر اطلاعاتي آژانس ته وویل په دي تحصیلي سمستر کي چي پرون وروستي ازمویني پیل شوي له نیکه مرغه داسي پلانونه له اکادمیکي نورمونو سره سم بشپړ شویدي او داسي نیمګړتیا را منځته نه شوه چي په ټاکلي تحصیلي نصاب کي د خنډونو د پیدا کیدو سبب شي.

ده زیاته کړه سږ کال د معالجوي طب د ماشومانو طب او د ستوماتولوژي طب په پوهنځیو کې دوه زره اته سوه تنه محصلان چي له دي جملي نه څه د پاسه څلور سوه پنځوس تنه له هیواد نه بهر د ۴ مخ

د میلو سوویچ د ګوښه کیدو د پر له پسې غوښتني ټینګار مخ په زیاتیدو دي

په یوګوسلایا کي په داسي حال کي چي د دوه سترو ښارونو سیمه ییزو استازو د جمهوري ریاست له مقام نه د سلو بودان میلو سوویچ فشار مخ په زیاتیدو دي.

د نوسیا داودنیش پاسه د ښارونو سیمه ییزو پارلمانونو د پریکړه لیکونو په صادرولو سره د جمهوري ریاست له مقام نه د میلو سوویچ د ګوښه کیدو غوښتنه کړیده .

دغه راز د دولت مخالفانو اعلام وکړ چي غواړي په زیاتو مظاهرو لاس پوري کړي په عین حال کي د ناتو لوړ رتبه پوځي ۴ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

افغانستان رښتیا هم د خطر زنګ که هسي پلمي

نړیوالو په اوریدلي وي چي تیره ورځ د امریکا حکومت په افغانستان د خپل اقتصادي بندیز تر څنګ په ټولو امریکایانو غږ کړیدي چي افغانستان ته له سفر نه ډډه وکړي ځکه د دوي په وینا چي په افغانستان کي امن نشته ده او د امریکایانو سرته خطر موجود دي، د امریکا حکومتي چارواکو همدارول په ډیرو نورو واقعیتونو باندي سترګي پټي کړیدي او غوښتي یي دي چي نړیوالو اوپه تیره بیا امریکایانو ته په افغانستان کي سري اشاري او د خطرزنګ تل روښانه وښیي.

که څه هم د افغانستان له مسلمان ولس او د ۲ مخ

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندی
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکړ»
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

افغانستان له اسلامي امارت سره د امریکا خصمانه او دښمنانه چلند کوم نوي کار او نوي خبره نه ده په افغانستان کي د اسلامي نظام د مخنیوي لپاره له ډیري مودي راهیسي تر خپله وسه دسیسي او پلمي جوړوي ، ډول ډول پروپاگند کوي، په ناوړو افترااتو او بهتانونو یي خپلي اداري ستړي کړیدي خو الحمد لله هیڅ کومه نتیجه یي تري تر لاسه کړي نده دا اوس چي دوي په افغانستان کي په بشپړ امنیت خپله هم سترگي پټوي او د نورو په سترگو کي هم خاوري شیندي دا د هماغو تیرو لړیو یوه نوي کړۍ ده که نه هر څوك وینی چي په افغانستان کي بشپړ امنیت تأمین ، د هر چا حقوق خوندي دي په افغانستان کي د ډیرو هیوادونو حتي هغو کفري هیوادونو اتباع هم موجود دي چي حکومتونه یي همدا اوس هم د اسلامي امارت په ضد په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول په فعالیتونو بوخت دي خو چاړرته هغه د چا خبره په کږه سترگه هم نه دي کتلي. او لکه څرنگه چي عالیقدر امیر المومنین د امریکا ددي اعلامیي په هکله په خپل یو مطبوعاتي وینا کي ویلي دي چي اسلامي امارت چي یو ځل هر چاته که هغه امریکایي وي او که د بل هیواد ویزه او پاسپورت چي د شرعي امان حیثیت لري ورکړي نو بیا د هغي په ساتنه باندي شرعاً ځان مکلف بولي دا خو لا پریږده چي خپله به ورته خطر وریپښ کړي حتي د نورو د اضرارو او بدونیتونو نه ساتل یي هم خپل مسؤولیت بولي عالیقدر امیر المومنین ویلي دي چي همدا اوس هم په افغانستان کي ډیر امریکایان شته دي او په بیلا بیلو موسسو او انجوگانو کي کار کوي خو هیڅ خطر هم ورته وریپښ شوي ندي ده وویل چي افغانان میلمه پال خلك دي او هیڅکله به داسي کارونه کړي. محترم عالیقدر امیر المؤمنین زیاته کړه چي اصلاً امریکا غواړي چي خلکو ته په افغانستان کي د بي باوري تاثر ورکړي او داسي ورته وښیي چي گویا په افغانستان کي امنیت نشته ده او له دي لاري نه د افغانستان اسلامي امارت بدنامه کړي او خپلي ناوړي گټي تر لاسه کړي ، امریکایان د زور خبره کوي په داسي حال کي چي دا د اسلامي امارت پالیسي او دریځ دي چي هر هیواد چي له افغانانو سره مشکل لري نو اسلامي امارت ورسره مفاهمي او مذاکراتو ته چمتو دي . خو بیا هم د امریکا حکومت منطق نه مني اسلامي امارت په ډاگه وایي او په عمل کي یي ثابته کړیده چي که چیري له کوم حکومت او یا نظام سره مخالفت ولري نو خپل فعالیت ته به په یو اصولي چوکاټ کي ادامه ورکوي او له همغه اړوند حکومت او یا نظام سره به خپل مشکل حل کوي خو هیڅکله له کوم ولس او یا افرادو سره دښمني نه کوي .

ځني خلك وایي چي اسلامي امارت دي د امریکا د حکومت خبره ومني او له خپل دریځ نه دي تیرشي که څوك ددي خبرو عواقبو ته متوجه شي نو پوه به شي چي دا د یو ستر خطر نه ډك فرمایش دي دا ځکه چي که چیري افغانانو د هر یرغلگر او ښکیلاکگر هره خبره منلي نو نن به د نړي په مخ د افغانستان نقشه نه وه چي ددي ښکیلاکگرواو یرغلگرو ژوندي بیلگي انگریزان او روسان ښودلي شو باید وویل شي چي افغانان ځانته خپل اسلامي او ملي ویاړونه لري او ددي ویاړونو د ژوندي ساتلو لپاره یي ډیري قرباني ورکړیدي او اوس هم په خپل هماغه پخواني اسلامي او ملي عنعنوي دریځ کلك ولاړ دي او په همدي دریځ کي یي د خدای(ج) نصرت هم ملگري دي نو خپلو اسلامي ارزښتونو او ملي عنعنوي دریځونو ته په احترام سره ټولو مسلمانانو او په ځانگړي ډول افغانانو ته په کار ده چي د اغیارو او ښکیلاکگرو او د دوي د مزدورانو په وړاندي د خپل اسلامي امارت تنگه او ملاتړ وکړي او د پخوا په څیر یي د خپل سر او مال په بیه تر شاه ودریږي او خپلمنځي اختلافاتو ته له یوي مخي د پاي ټکي کیږدي. او اسلامي امارت هم باید همداسي په خپل دي اصولي دریځ ټینگ ودریږي.

بندیزونه

جمهور رئیس بل کلنټن پخپل لاسلیک سره پر افغانستان د امریکی له خوا تجارتی او اقتصادی بندیزونه منظور کړل . او د نړی راډیو گانو آژانسونو او خپرونو ته نوی او توده موضوع په لاس ورغله .

احمد شاه مسعود د خپل ویاند ډاکتر عبدالله په خوله ددغو بندیزونو هر کلی وکړ، په دغو بندیزونو یی خپلی غاړی نیغی کړی، لکه امریکی چی د دوی یوه هیله، یوه ستره هیله پوره کړی وی ځکه خو دوی پر هیواد د امریکی بندیزونه خپل بری وگاڼه.

ښایی ځینی نور هم پدی غلط فهمی کی لویدلی وی او د امریکی دغه اقدام یی پخپله کاته کی لیکلی وی .

ښاغلی کلنټن څو ورځی دمخه د امریکی د ملی ورځی په اړه پخپل پیغام کی د افغانستان په اړه هم خبری لرلی ، دده پیغام په پیښور کی د امریکی سر قونسل په یوه غونډه کی ولوست په دغه غونډه کي د افغانستان د سیاسی بریوکی ټیکه داران هم را غونډ شوی وو - جمهور رئیس پخپل پیغام کی د افغانستان د اهمیت او لومړیتوب خبره کړی وه او دایی څرگنده کړی وه چی امریکه به له افغانانو سره پره پره مرسته کوی.

مور د جمهور رئیس په دغه خبره پوه څرگندونه درلوده چی په تیره گڼه کی خپره شوه ، اوس د ښــاغلی کلنټن په وړاندی د افغانستان اهمیت او د لومړیتوب حق ته برسیره شو .

دا چی دغه بندیز څومره اغیزمن دی دا څو ورځی پری کار پوهان لگیا دی تبصری کوی د دوی له تبصرو څرگندیږی چی دغه بندیزونه هغسی اغیزی نشی لرلای لکه څنگه چی تری امریکا توقع لری.

د بشر د حقوقو د دفاع حقیقت دلته ډیر ښـــه څرگندیږی چی یو جگړه ځپلی او وران ویجاړ هیواد ددغسی بندیزو له امله نور هم د دربدری او تباهی له ترورمیو سره مخامخ شی.

د امریکی اقتصادی بندیزونه به په سیاسی سطحه د تبصرو او خبرونو بازار تود کړی او مخالفین به هم لکه څنگه چي ولیدل شول هغه د ځان په گټه توجیه کړی خو په عملی ډگر کی بی د داسی فشـار په توگه د استعمالیدو چانس ډیر لږ لیدل کیږی چی د هغه له لاری امریکا خپل هدف تر لاسه شوی وگڼی.

په اقتصادی ډگر کی افغانستان له ټولی دربدری سره سره د کوم هیواد پورورِی نه دی، خپله له متحده ایالاتو سره یی تجارتی راکړه ورکړه په داسی کچه نه ده چی د لگیدلو بندیزونو له لاری د پام وړ ستونزی را منځ ته کړی.

امریکی ته په کاروه چی د زور پر ځای یی پرستونزو د خبرو لار غوره گڼلی وای او له همدی دریځ نه یی د ولسونو د ربړو د زیاتولو پر ځای د ربړو د له منځه وړلو په لار کی مرسته کړی وای .

پټی پاڼی

شهرت ننگیال

اقتصادی بندیزونه که اغیزمن هم وی د هغی تاوان د خلکو او ولسونو پر اوږو لویږی چی خپله د امریکی د انسان دوستی شعارونه او ادعاگانی تر پوښتنی لاندی نیسی.

آیا امریکی له اقتصادی بندیزونو نه پرته د ربړی د حل په اړه بله لار نه درلوده ؟ ایا دا وروستی لار وه ؟ امریکی د بندیزونو له لگولو دمخه له نورو دیپلوماتیکو چینلونو او چلندونو څخه په ځای او وخت استفاده کړی ؟ پدی اړه متحده ایالات د خپلو هلو ځلو په اړه څه اسناد او مدارک وړاندی کولای شی؟

د امریکی دا اقدام به ددی معنا ولری چی متحده ایالات یواځی د زور په منطق پوهیږی او له نړیوالو سره د ستونزو په حل کی یواځی له همدی لاری مخامخ کیدل خپل دریځ گڼی ؟

متحده ایالات ښایی پدی و پوهیږی چی ملتونه فقر او بیوزلی زغملی شی خو پخپلو پریکړو او پالیسو کی د بل حکم او اشاری ته کتل د ملی غرور او استقلال د لاسه ورکولو اندول گڼی ، د افغانانو دینی او ملی ارځښتونه او ایمانی پرتم ددغه هیواد په ټولنیز جوړښت کی هغه بنسټیز توکی دی چی تر ټولو زیات د پردیو لوریو په وړاندی د هغوی له آمرانه سیاست او موقف سره د مخالفت روحیه پالی او ژوندی یي ساتی او همدغه روحیه ده چی افغان مســـلمـــــان ملت یی له هرډول ازمیښتونو بریالی را ایستلی او سر لوړ او ژوندی یی ساتلی دی.

افغانان او افغانستان له سختو کړاوونو او ازمیښتونو سره په مقابله کی اوږدی تجـــربی او ویاړلی تاریخ لری چی ښایی له متحده ایالاتو پټ نه وی متحده ایالات د افغانانو د ویښو او قربانیو پوروړی دی، د همدغو ویښو او قربانیو برکت دی چی شوروی اتحاد، کمونیزم او وارسا پکټ د متحده ایالاتو له مخی لیری شو، ځکه خو امریکی ته په هیڅ ډول دا مناسبه نه ده چی د افغانستان پر ضد داسی لار خپله کړی چی له دغه ملت سره د دښمنی واټ ته وتلی وی .

استرداد مجرمین و حقوق بین الملل

وحید "مژده"

مسئله پناهنده شدن مخالف یك دولت به کشور مخالف در تاریخ سابقه بسیار طولاني دارد. میتوان گفت این مسئله از دیر زمان از جمله حساس ترین مسایل در روابط میان کشور ها بوده است .

پذیرفته شدن مخالف یك رژیم بعنوان پناهنده در کشور دیگر معمولاً عملي غیر دوستانه تلقي میشود و موجب تیره گي روابط میان دو کشور میگردد ، مخصوصاً اگر پناهنده امکان فعالیت مخاطره آمیز علیه **کشوري را که با آن مخالف است نیز داشته باشد.**

بنا بر این حــقــوق بین الملل براي جلوگیري از برخورد ها و کشمکش هایي که ممکن است از چنین عملي ناشي گردد قواعدي را وضع و یا به آن حکم نموده است ولي از آنجا که حقوق بین الملل ضامن اجراي موثري جز تصمیم دولت ها به رعایت آن اصول بر مبناي مصلحت هاي ملي یا بین المللي خویش ندارد، دولت ها کمتر خود را ملزم به رعایت آن دانسته اند مگر در صورتیکه بین دو کشور قراردادي مبني بر استرداد مجرمین عقد شده باشد.

یك مجرم ممکن است به کشوري پناه ببرد که مایل به استرداد و یا اینکه قادر به محاکمه وي نباشد زیرا مدارك و شواهد جرم در خارج از کشور قرار دارد حقوق بین الملل هر چند رویه استرداد مجرمین را توسعه داده است تا یك مجرم از کشوري به کشور دیگر مسترد گردد و در آنجا مورد محاکمه قرار گیرد ولي درین رابطه حقوق بین الملل با یك ابهام بزرگ مواجه است، نخست اینکه این کار بدون وجود یك قرار داد دو جانبه میان دو کشور نمي تواند صورت گیرد زیرا روابط میان کشور ها بوسیله قرار داد هاي مشخص در هر بخش تنظیم میشود در عین حال قاعده بین المللي که دولت ها را در صورت عدم وجود معاهده از استرداد مجرمین منع کند نیز وجود ندارد.

از اینجاست که دولت ها به حساسیت هایي که ممکن است استرداد یك پناهنده در داخل کشور و نیز در سطح بین المللي خلق کند ارج و اهمیت میدهند بخصوص اینکه پناهنده در سطح بین المللي شخصیت شناخته شده یي باشد و البته در قبول پناهندگي نیز این مسئله مطرح است که وجود پناهنده در سطح بین المللي چه مشکلاتي را ممکن است براي کشور میزبان ایجاد کند.

عدم پذیرش تقاضاي پناهندگي (عبدالله- اوجالان) از طرف بعضي از کشور هاي اروپایي ناشي از همین مسئله بود ولي اکنون امکان اعدام وي توسط ترکیه، نگراني هایی را از حملات کرد ها در سراسر اروپا در صورت وقوع این عمل بوجود آورده است بنا بر این در استرداد و یا عدم استرداد یك پناهنده میتواند عوامل مختلف موثر باشد.

مسئله دیگري که با موضوع فوق بي- ارتباط نیست اختلاف در قوانین میان کشور هاست. یك فرد ممکن است در کشور خودش به جرمي متهم باشد که آن عمل در کشوري که به آن پناه آورده جرم محسوب نمي شود. درین مورد حقوق بین الملل نیز نمي تواند حکم خاصي داشته باشد مثلاً در یك کشور ساختن حزب سیاسي بر بنیاد مذهب جرم است در حالیکه کشور دیگر آنرا مجاز مي شمارد. درین صورت استرداد به معني نقض قوانین داخلي خود توسط کشوري است که به پناهنده پناه داده است بطور مثال : همین اکنون گروههاي بنیاد گراي مسلمان از بسیاري از کشور هاي اسلامي در انگلستان فعالیت دارند ولي دولت انگلیس بر اساس قوانین خودش **آنها را به کشور هاي متبوع شان مسترد نمي** کند.

این مسئله تنها شامل پناهنده هاي سیاسي نمي شود در بعضي از کشور ها تعدد زوجات یك جرم جنایي محسوب میگردد و مستوجب مجازات قانوني است در حالیکه در کشور هاي اسلامي این کار مطابق به شریعت و قانون است. بنا بر این همین اختلاف در قوانین میان کشور ها نیز ایجاب مي نماید که در صورتیکه قرار دادي میان دو کشور در مورد استرداد مجرمین عقد میگردد باید جرایمي که ارتکاب آن ایجاب استرداد مجرم را مي نماید مشخص گردد بعباره دیگر جرم بودن یك عمل از طرف هر دو جانب تائید گردد.

اصل قلمرو :

هر دولتي بخود این حق را میدهد که جرایمي را که در کشور خودش اتفاق مي افتد مورد رسیدگي قرار دهد. گاهي واقع مي شود که طرح یك جرم در یك کشور ریخته شده و جرم در کشور دیگر اتفاق مي- افتد. در اینگونه موارد هر دو کشور حق رسیدگي به این جرم را دارند. کشوري که طرح جرم در آن ریخته شده بر اساس اصل (قلمرو فاعلي) و کشوري که جرم در آن اتفاق افتاده است بر اساس اصل (قلمرو مفعولي) واجد صلاحیت تحقیق و بررسي اند.

ولي گاهي پیچیده شدن جرایم در سطح بین المللي ممکن است پاي بیش از دو کشور را در یك ماجرا بمیان بکشد که درین صورت حقوق بین المللي باید براي هر یك از کشور هاي دخیل حقوق مساوي در بررسي قایل گردد ولي در عمل چنین نیست بلکه کشور قدرتمند در درین جریان خود را واجد صلاحیت مسلط مي داند.

بطور مثال : در ماجراي انفجار طیاره (پان امریکن) که چند سال قبل صورت گرفت، امریکا لیبیا را مورد تحریم اقتصادي قرار داد. از آنجا که انفجار طیاره مذکور بر فراز لاکربي در اسکاتلند صورت گرفت پاي انگلستان نیز به این ماجرا کشیده شد.

در چنین مورد هر سه کشور یعني امریکا(بخاطر اینکه طیاره متعلق به این کشور بوده است) انگلستان بخاطر اینکه انفجار بر فراز خاك این کشور رخ داده و لیبیا بعلت اینکه اتباع این کشور از طرف امریکا درین قضیه متهم گردیده باید بصورت یکسان حق رسیدگي را داشته باشند ولي امریکا با ادعاي دولتي بودن این عمل تروریستي حق لیبیا را درین بررسي سلب نمود .

اصل ملیت :

بر بنیاد این اصل یك دولت حق دارد اتباع خود را بخاطر جرایمي که مرتکب شده اند در هر کشور از دنیا مورد تعقیب قرار دهد اما درین مورد نیز قوانین خاصي در هر کشور موجود است و یك اصل پذیرفته شده در سطح بین المللي است کسانیکه به جرایم جنایي متهم اند به کشور متبوع شان بر گردانیده مي شوند تا مورد محاکمه قرار گیرند ولي کسانیکه به جرم سیاسي در کشور هاي شان مورد تعقیب اند معمولاً مسترد نمي شوند.

در معاهدات استرداد اغلب این قید ذکر مي شود که جرم مربوطه باید در قلمرو **کشور تقاضا کننده استرداد اتفاق افتاده باشد.**

ادامه دارد

په اسلام کې د ښکلا خوښوني احساس

قاضي محمد حسن «حقيار» دريمه برخه

ځنی مفسرين د دی ایت « قل من حرم زینة الله ... » یعنی : روایه چی چا حرام کړیدی زینت د الله هغه چی ایستلی یی دی لپاره د بندګانو خپلو او (چا حرام کړیدی) پاک لذیذ شیان له رزقه څخه» الاعراف ۳۲ . په تفسیر کی لیکلی چی دلته په «من حرم» کی استفهام انکاری دی یعنی دا شیان هیچا حرام کړی نه دی . او دا د انسان دواړه ضرورتونه تعقیبوی یوه اړتیا د انسان د وجدان، روح او ضمیر اشباع (موښت) ده چی د هغی یادونه یی په «زینة الله » ســـــره وکړه او بله د جسم مادی اړتیا یعنی غذا ده چــــــی د هغی تعبیر یی په « والطیبت من الرزاق » سره وکړ.

همدا راز مفسرين وايی چی په دی ایت کی د «زینت» د لفظ اضافت یا تړاو د «الله»ج له مجلل او لوی لفظ سره په دی خاطر وشو چی زینت ته شرف او درناوی ورکړل شی.

همدا راز الله»ج» د لباس د را نازلولو یا را لیږلو غرضونه په دی ډول بیانوی. « یابني ادم قد انزلنا... » یعنی « ای زامنو دآ دم څه په تحقیق نازل کړیدی (لیږلی) دی مونږ پر تاسی لباس چی پټوی عورتونه ستاسی او د زینت (ښایست) کالی او کالی د تقوی» الاعراف ۲٦ .

معنا دا چی د لباس نزول چی الله»ج» یی په مونږ د احسان په ډول یادوی د څو غرضونو لپاره تر سره شویدی چی هغه یو مادی هدف (یو اریکم سوأتکم د عورت پټول دی) دوهمه : (وریشاً د ښکلا او تجمل لپاره چی دا معنوی هدف دی او(و لباس التقوی د ځان ساتنی لباس له ګرمی او یخنی نه) چی دا هم مادی هدف دی) حتی الله»ج» د کائناتو طبعی ښکلا او په ځانګړي ډول د انسانانو ښکلا د خپل وجود نښه بولی.

د قرآن عظیم الشان په ایتونو کی فکر کوونکی په دی پوهیږی چی الله»ج» څو څو ځله خپل بنده ګان په ځمکه ، اسمان او دي لوي کائنات کي خور حسن او ښکلا ته رابولي رغواړي چی د مومن په عقل او احساس کی دی د ښکلا مینه او په ښکلا پوهیدنه ځــــــای ونیسی.

« الذی احسن ... یعنی « هغه الله چی ښایسته کړی یی دی هر شی چي پیدا کړي يې دي » السجده ۷

الله»ج» د اسمانونو د ښکلا په هکله فرمایی : افلم ینظر وا إلی الســمـاء ... » آیا پاس نه ګوری دوی طرف د اسـمـان ته له پاسه د دوی چی څرنګ جوړ کړیدی مونږ هغه او ښایسته کړی مو دی هغه او نشته دی اسمان ته کوم چا و د ق ٦ « ولقد جعلنا فی السمـاء ... یعنی: او خامخا په تحقیق پیدا کړیدی مونږ په اسمان کی برجونه او ښایسته کړیدی مونږ دا (اسمان) لپاره د کتونکو» الحجر ١٦

د ځمکی د ښکلا په هکله فرمایی : « امن خلق السموات والارض ... یعنی : « بلکه هغه څوک (بهتر دی) چي پیدا کړی یی دی اسمانونه او ځمکی او نازلی کړی یی دی ستاسی لپاره له اسمان نه اوبه پس زرغون کړل مونږ په دغو (اوبو) سره باغونه خاوندان د رونق (او ښایست) نه دی کـبـدونکی له تاسی چی زرغونی کړی تاسی ونی د هغــــــو ایاشته بل معبود له الله سره ؟» النمل ٦٠

« امن جعل الارض ...» یعنی « بلکه هغه څوک بهتر ده چی ګـرځولی یی ده ځمکه ځای د ارام او ګـرځولی یی دی منځ د ځمکی کی نهرونه او ګرځولی یی دی ورته کلک او لوړ غرونه او ګرځولی یی ده په منځ د دوه بحرو کی پرده » النمل ٦١

د حیواناتو د ښکلا په هکله د النحل د سورت پنځم او شپږم ایتونه چی پورته مو یاد کړل کفایت کوی همدا راز د انسان د ښکلا په هکله هم ګڼ شمیر ایتونه راغلی چی په بیلا بیل تعبیر سره یی د انسان ښکلا ستاینی ده لکه « لقد خلقنا الانسان ... یعنی « یقیناً مونږ پیدا کړیدی انسان په ډیری ښکلی بڼی سره» التین ٤

« الذی خلقک ... » یعنــــــی : « هغـه (رب) چی پیـدا کړی یی تـه نو برابر کړی یي یی ته پس معتدل او برابر کړی یی یي ته په هر شان او صورت سره چی وبی غوښتل پیوند کړی یی یی ته » الانفطار ۷ - ۸ .

« و صورکم فاحسن ... » یعنی : « او صورتونه یی جوړ کړی ستاسی بیایی ښه ښـــــایسته کړیدی صورتونه ستاسی » التغابن ۳

پاتی لری

د وطن مور

حنیفه زاهد شاه جویی

د وطن موري مو خوږلي دي زخمونه
اوس به یي وکړو رغیدو خــدمتونه
د وطن مور ده هیله منه - داله پیږیو قدرمنه
اوس رانه ډیره ګیله منه
راځي چي ښـــــکل یي په زاریو کړو لاسونه اوس به يي وکړو رغیدو ته خدمتونه
چي بي ساتل د ځان په وینو - هم لویول يي په نازونو
د ښه خدمت په امیدونو
هغو بچو دریاندي وکړل ګذارونه - اوس به يي وکړو رغیدو ته خدمتونه
په چیغو، چیغو ژړیدلي - په خاورو وینو لمبیدلي
د چا له لاسه کړیدلي
غچ به يي واخلو ټن راغلي دي وختونه - اوس به يي وکړو رغیدو ته خدمتونه
خپه زړګي به يي خوشحال کړو - ورنه قربان به سر او مال کړو
ځان به له سیاله سره سیال کړو
په ننګ غیرت به يي ټکور کړو پرهرونه - اوس به يي وکړو رغیدو ته خدمتونه
چي خوږ وطن مو خوار او زار وي - مظلوم ولس مو بي قرار وي
ملي وحدت مو تارو مار وي
«زاهده» تل به مو ترخه وي نعمتونه
اوس به يي وکړو رغیدو ته خدمتونه

شاجوي - عظمت
١٤ ٢٠

یتیم ته

ا.ب

قسم رښتیا به وایم
دغه د اوښکو امیل
کتار، کتار ستا په ګریوان چي پروت دي
قسم رښتیا به وایم
تر ټول جهان او تر دا ځمکه اسمان
او د انسان د ژوندانه تر داستان
زما د رب زما د خداي خوښ دي
خو!
پام!
د پاك شهید زویه نازك یتیمه!
له ما چي ونه ژاړي
قسم رښتیا به وایم
زه به بیا نه یم دلته
زما د ژوند دغه داستان به نه وي
رښتیا دا ځمکه او اسمان به نه وي
خو!
پام!
د پاك شهید زویه نازك یتیمه!
له ما چي ونه ژاړي
له ما چي ونه ژاړي

د شعر او ادب لیکنې

چي کښـــورو د شـعـــرانو شـعـار ګـــا ...
د ...

آب بقا

میر ظهور الدین «شهیر»

سـرشک از دیده مـیـآید چراغـان کلبـه را کـرده
بنازم این دل خـونین کـه روشن چشم ها کـرده
فـروغ از چشم مـیـبـارید با آب زلال آتشـ...
کـه تیـره خـانه، دل را، پر از نورو ضـیـا کـرده
بکن زاهد ز آب دیده دل را شـســتـشـو بکـند
کـه از زنګار غم صـد قلب را شـیـون صـفـا کـرده
ز آفـات ګنه یابي رها با عـجـز در ګـریه
مګر از عـجـز کـبـرت در عـبـادت دل جـدا ...
منه بر این سـراي بي وفـا دل اي خـرد...
ز چشم عـقل و دل بین کـاین سـرا بر کي وفـا کـرده
«شـهـیـرا» ګـفـتـه هایت هر یکي اندرز ها باشـ...
چو قطره در صـدف، ګـویي به ذهن عـام جـا کـرده

د افغانستان د اقتصادي بیا رغاونی لاری چاری

یار محمد "همنوال" - پنځمه برخه

مواصلاتی خطوط او دهغو اهمیت د هیواد په اقتصاد کی

عصری مواصلاتی خطوط (پاخه سړکونه او د اورګـادی پټلی) په یو هیـواد کی د بدن په شـان د شـرائینو حیثیت لری او د یو هیواد په اقتصاد ، سیاست او حتی ټولنیز جوړښت کی ډیر عمده او اساسی رول لوبوی که له نورو برخـو څخـه یی تیـر شـو او صـرف پـه اقـتـصـادی ډګـر کی ددی خطوطو رول ته خـپـل پام واړوونو دا خبره به راته جوته شی چی رښتیا هم د مواصلاتی خطونو له اهمیت څخه هیڅوک سترګی نشی پټولی.

مـواصـلات د ملی اقـتـصـاد د صنعت او زراعت د دواړو برخـــو په پراختیـا کی یو شانی تأثیـر لری د مثال په توګه په هغو سیمو کی چی مواصلاتی خطوط د هغو څخه تیریږی هلته نه یوازی دا چی هغه شیان کرل کیږی چی د هغی سیمی د خلکو د اړتیا وړ دی بلکه د هغوی د انتقال امکانات هم نورو ځایونه ښه میسر وی .

په دا ډول ســیــمـــو کی چی د مـواصلاتی خطوطو د تقاطع نقطه وی هلته تجارتی بازارونه موجود وی او هغـــه ځای خـورا زیات انکشـــاف موندلی وی خلکو یی زراعت او لاسي صنایعو ته مخه کړی وی او هغه څه تولیدوی چی په نورو سیمو کي ورته اړتیا وی هغوی نور صرف د خپلی اړتیا ورشیان نه تولیدی وی بلکه د تجارت لپاره خپل تولیدات انتخابوی.

په اوسنی عـصـر کی هم مـواصـلاتی خطوط د تمدن د انتشار دعمده عامل په توګه پیژندل شوی او هیڅوک د هغو اهـمـیت کم نشی حـسـابولای نو ددی حقیقت په پام کی نیولو سره د هیواد مواصـلاتی خطوط چی د کمونستانو د توری دوری په زمانه کی له منځه تللی او زمـونږ په ملی اقـتـصـاد یی ناوړه اغـیـزه کـړی ده د پوره پاملرنی وړ دی ځکه د افـغـانسـتـان د اقـتـصادی بیـا رغاونی یو عمده عامل دا دی چی لو یی لاری له ســره جـوړی او زمـونږ خلک وکولای شی په ډیر لنډ ممکنه وخت کی خپل محصولات بازار ته عرضه کړی او له بازار څخه د ضرورت وړ شیان تر لاسه کړی.

دوی لســـبـزی مـخکی په هلمند لشکرګـاه بغـلان مـزار قندوز او نورو سـیـمـو کی تجارتی زراعت ، که هغه پنبه دانه وه یا ختکی او هندوانی یا لبلبـو او نیـشـکر زیات رواج درلود او زمـونږ دهقـانانو په زرګـونو هکتـاره ځمکی د همدی تجارتی نباتاتو د کښت د پاره اختصاص ورکړی وو مګر کله چی مـواصـــلاتی خطوط وران او د موټر کرایه ډیره جګه شوه دهقانانو له هغه نباتاتو څخه لاس واخستل د داسی شیانو په کرلویی پیل وکړ چی ډیره کرایه نه پری مصرفیږی او زیات مفاد تری تر لاســه کوی او هغه د کوکنارو کرل دی. چی ددی کـښت یو عـمـده علت همدغه د مواصـلاتی خطوطو ویجاړتیا

او د مـوټرو د کـرایی جګوالی دی چی دهقان هغه پخوانی مفیده مواد چی د هیـواد د صنعـتی کیـدلو په لاره کی مـهـم رول درلـود ونه کـری بلکه داسی زراعت ته مخ را اړوی چی په هغه کی صـرف دده څه ګټه وی .

همدا راز کـه د صنعت برخی ته متـوجـه شو وینو چی خـام مـواد د کـرایی د جګوالی لـه امله ګـران تمامیږی او د فابریکو خاوندان دی ته زړه نشی نیولای چی خپل شیان په ډیر جګ قیمت ورته خرڅ شی په دی لحـاظ کـومی فـابریکی چی تر کمونستی رژیم دمخه په هیواد کی ودانی شوی وی د همدی مواصلاتی خطوطو په تخریب سره هغـه هم د کـــاره ولویدی تر څو د ربانی په دوره کی د هغوی مـاشین الات هم د کبـاړ په توګـه وپلورل شـول. د هیـواد د صنعتی کیدو په لار کی تر هر څه دمخه باید مواصلاتی خطوط بیا جوړ او احیا ،شی تر څو هغه شرایط چی د یو صنعتی مرکز د تاسیس دپاره چی هلتـه خـام مـواد ، انرژتیکی اسانتیاوی یا مواد او بالاخره د کاربشری قواوی موجودی وی، پوره شی بیا نو د صنعتی مرکز تاسیس څه مشکل کار نه بلل کیږی . او هر پانګه لرونکی دی ته زړه ښه کوی چی خام مواد ورته په ارزانه بیه تر لاسه کیدلای شی.

په اوسنیو شرایطو کی تر ټولو عمده

خــبـره دا ده چی د مـواصـلا... ویجاړتیا زمونږ له هیواد څخه د ... اسعارو زیاته اندازه د تیلو پرزو ... او د هغـوی د نورو ضـرور... برخه کی له هیواد څخه وځی.

ځکه که پخوا له کابل څخه ... پوری د اوویا اتو ساعتونو لاره ... لاره کم تر کمه د ۳٦ ساعتونو لاره ده چی په دی حساب د یوه موټر د تیلو ... اندازه د پخوا په پرتله څلور ځلو ... لوړه شـوی ده چی دا تیل ټول د خـارجی اسعارو په مقابل کی راتیول کیږی یا ... موټر د تیلو په برخه کی څلور نیم ... د خارجی اسـعـارو منابع په اسـانـی ډول خـرڅـوو کـه د پرزو ، ټایر ټیـوب او نورو روغنیاتو پیسی هم په دی مصرف ور ... ځومره نقلیه باروړونکی وسـایط ... په دی ویجـاړو سـړکـونو کی خـرابیږی او عوارض کوی دا ټول وسنجول شی نو ... دا خـبـره ومنو چی تر هر څه د مخـه باید : سړکونو داساسی ترمیم پلان باید طرح شی **تر څو د خـارجی اسـعـارو د وتلو مخنیوی وشی.**

د مواصلاتی خطوطو ترمیم د مملکت په سیاسی او نظامی وضع باندی مستقیـ... تاثیـر لری کـه مواصـلاتی خطوط جوړ ... مـوږ کـولای شـو په ډیر کم وخت کی خپل نظامی قوتونه د مملکت هر ګوټ ته په ډیره کمه زمانی فاصله کی یی له دی چی وضع کنترول څخه ووځی هلته ورسـرو او اوضاع تر خپل کنترول لاندی ولرو.

د اسـلامی امـارت یو لـه ډیرو اهمـو مـسـولیـتونو څخه دا شـمـیـرل کـیـږی چی د هیواد د مواصـلاتی لارو په ترمیم او احیا کی اقـدام وکـړی ځکه دغـه اقـدام په هـیـواد باندی د حـاکمیت او اقتـصـادی بیـا رغـاونه کی ښه موثر رول لوبولی شی.

عالیقدر امیر المؤمنین محترم ...

دی اړه توپیر کوی تاسی په دی اړه څه وایی ؟

ځواب : تاسی وینئ چی د خپلو امکاناتو سره دواړه ډوله تعلیمونه جریان لری او موږ هم دواړو ډولو تعلیمونو ته تر خپله وسه پوره توجه کړی ده .

پوښتنه: موږ همیش اوریدلی دی چی اسلامی امارت به د امنیت په تامین او د شرایطو له سمیدو سره سم د ښځو تعلیم پیل کړی اوس خو الحمد لله بشپړ امنیت تأمین دی نو په دی اړه مو څه تصمیم دی ؟

ځواب : تاسی په خپل سوال کی دوه و ټکو ته اشاره کړی ده لکه د امنیت تأمین او د شرایطو سمیدل چی بو بی الحمدلله پوره شوی او بل بی وخت ته طبعاً اړتیا لری.

پوښتنه : د انقلاسیون او فقر د محوه کولو لپاره څه اراده لری او آیا ښه به نه وی چی نوی بانکنوتونه چاپ شی ؟

ځواب : دا موضوع یوه جدی ستونزه ده چی د هیواد بهرنیو او کورنیو مخالفینو منځ ته راوړی که څه هم دا یوی انکشافی بودیجی ته ضرورت لری خو بیا هم تر غور لاندی ده تر څو ورته د حل لاره پیدا کړو .

پوښتنه: د یو منظم اردو د جوړیدو لپاره چی پخوانی صاحب منصبان هم په کی استخدام شی څه اراده لری ؟

ځواب : هغه مجاهد او مسلمان صاحب منصبان چی د کار توان ولری د هیواد په مجاهد، ملی او مدافع اردو کی به د خاوری او عقیدی په ساتنه کی فعال رول لوبوی.

پوښتنه: ځنی خلک دعوه کوی چی طالبانو واک له ځان سره انحصار کړیدی تاسی په دی اړه څه وایی ؟

ځواب : واک په اصل کی د هیواد د خدمت یو امانت دی زموږ جگړه ځپلی هیواد نه ستړی کیدونکی خدمت ته اړینی دی نو په خدمت او رغونه کی انحصار نشته ده .

پوښتنه : د امریکا د کروز د توغندی د اورولو په مقابل کی چی یو غیر قانونی او غیر انسانی عمل و تاسی ولی د « هاگ » بین المللی محکمی ته عارض نه شوی؟

ځواب : د چا څخه چی کومه د انصاف هیله او د خیر توقع نشی کیدلای نو بیا خو به د وخت له ضیاع پرته کومه لاس ته راوړنه ونلری .

پوښتنه: ځنی خلک وایی چی اسلامی امارت د یو فرد « (اسامه) لپاره ټول افغانان ځوروی تاسی په دی اړه څه وایی ؟

ځواب: که خبره د فرد وای خو همدا فرد زموږ د راتگ مخکی هم دلی و او د « ترخه او باچا » په صورت کی په ډیره اسانی سره هر څه کیدلای شول مگر څه ونه شول البته د زور واکی په صورت کی د هر ښکیلاکگر هره نا جائزه غوښتنه منل اسلامی او ملی حیثیت تر پوښتنی لاندی راولی .

پوښتنه : ایا د اسلامی امارت د په رسمیت پیژندنی لپاره اوسنی کوښښونه کافی بولی ؟

ځواب : په دې اړه به هڅی لا هم روانی وی

پوښتنه: د کشمیر جگړه څه ډول ارزیابی کوی، د هند او پاکستان دریځونه څه ږ بولی او آیا د افغانستان طالبان هلته جنگیږی ؟

ځواب : هلته حالات اندیښمن دی، کشمیری مسلمانان د خپل اسلامی وقار او د سوکاله ژوندون لټه کی دی او دا چی افغانی طالبان هلته جنگیږی حقیقت نه لری .

پوښتنه: تاسي وینئ چی امریکا د عراق په خلکو توغندی اوروی په دی اړه مو تبصره څه ده ؟

ځواب: د عراق د خلکو ستونزې د سختی اندیښنی باعث کیږی .

پوښتنه: د مامورینو د معاش د ډیروالی څه اراده لرئ او که نه ؟

ځواب: د جنگ له مادی او معنوی خرابیو څخه یو هم اقتصادی مشکل دی .چی د شرایطو د بهتری په صورت کی به انشا ء الله سم شی.

پوښتنه: د اسلامی امارت نه باغی ملیشو ته څه پیغام لرئ؟

ځواب : نوردی ځان نه تیر باسی د هیواد او اسلام د لوړو گټو په منظور دي د تعقل څخه کار واخلی او هغه هیوادونه چی دوی پر شا تپوی او زموږ په کورنیو چارو کی لاسوهنه کوی د ښی راتلونکی په منظور دی نور افغانستان ته په سپکه نه گوری .

مرکه کوونکي : محمد حسن « حقیار »

پوهنتون هرات در هفت پوهنځی ...

هاي شانرا از خود شان پرسيده كه اينك خدمت خوانده گان عزيز ما تقديم ميشود :

سوال : لطفاً توضيح نمائيد كه پوهنتون هرات در زمينه دوام پيشبرد تحصيلي خويش چه آماده گي هايي به تربيه نسل جوان و كدر هاي مسلكي روي دست دارد ؟

جواب : پوهنتون هرات يكي از مؤسسات تحصيلات عالي است كه در چوكات وزارت محترم تحصيلات عالي امارت اسلامي افغانستان با داشتن پوهنځی هاي چون شرعيات، ادبيات زراعت ، اقتصاد ، هنر ها ، بفعاليت علمي و اكادميكي خود مطابق قانون تحصيلات عالي و لوايح و مقررات پوهنتون مشغول است اخيراً پوهنځي هاي طب و تعليم و تربيه و پيداگوژي ، در تشكيلات پوهنتون هرات اضافه گرديده است امور تدريسي و علمي آن مطابق قواعد پوهنتوني نافذ در پرتو نظام امارت اسلامي توسط كادر علمي و تخصص پيش برده ميشود.

سوال : ارزيابي شما از جريان پيشبرد تحصيل درين پوهنتون چگونه بوده آيا تا اكمال دوره تحصيلات آن به سويه استندرد جهاني مي باشد ـ اينكه مشكلات درين روند وجود دارد ؟

جواب : با وصف مشكلات عديده كه ناشي از تغييرات : سطوح مختلف كشور طي ساليان خواه مخواه بوجود آمده با آنهم به فضل خداوند عليم سطح و سويه تدريس و تحصيل محصلان طبق نورم هاي پوهنتون و هدايات مقام محترم وزارت تحصيلات عالي قناعت بخش است :

سوال : شخص شما تحولات بعد از پيروزي تحريك اسلامي طالبان را درين كانون علمي و تربيتي چگونه ارزيابي مينماييد؟

جواب : ملت مسلمان ما بخصوص قشر تحصيلكرده پيروزي تحريك اسلامي طالبان كه خود شان راهيان علم و معرفت اند استقبال نموده و منسوبين علمي و اداري پوهنتون هرات خود را همكار همه خادمان راه تعليم و تعلم دانسته و با كمال اخلاص و نهايت ايثار وظايف علمي اجتماعي و فرهنگي خود را انجام و با امارت اسلامي خود همكار و خدمتگزار هستند.

سوال : فعلاً درين پوهنتون به چه تعداد محصلين و چه پوهنځي ها با چه تعداد اساتيد مصروف تحصيل بوده و در سال پار فارغان شما به چه ارقام فراغت حاصل كرد ، آيا كدام ارگان هاي داخلي و خارجي با اين پوهنتون همكار بوده و مشكلات قابل توجه توصيه و پيام شما از مقامات امارت اسلامي چه مي باشد ؟

جواب : چون تقسيمات محصلان بر اساس قواعد كانكور از طريق وزارت محترم تحصيلات عالي صورت ميگيرد بناءً هر پوهنځي بنا بر خصوصيات رشتوي خود تعداد محصلان را تحت تدريس دارند بصورت تقريبي در هفت پوهنځي ياد شده به تعداد يك هزار نفر شامل صنوف مربوطه هستند و نيز بر تعداد يكصد نفر استادان امور تدريس را پيش مي برند و در سال پر به تعداد ۱۱۳ نفر محصل از پوهنځي هاي مختلفه پوهنتون فارغ گرديده است . پوهنتو در طول همين چند سال هيچ نوع كمك و معاونتي از مؤسسات خارجي مشاهده نكرده و احياناً اگر عندالضرورت خواستار عطف توجه شان شده ايم پاسخ منفي دريافت نموده ايم حتي بمسايل خيلي جزيي و پيش پا افتاده هم از همكاري و معاونت لازم دريغ نموده اند خوشبختانه كه پوهنتون هرات هميشه از همكاري و غمخواري هاي مقام محترم ولايت هرات برخوردار و در رويداد هر مشكل مقام محترم ولايت تا حدودي كه مقدور بوده و ايجاب مي نموده با پوهنتون عطف توجه و همكاري نموده و مي نمايد كه ما اين مساعدت هاي مادي و معنوي مقام محترم ولايت را قابل قدر مي دانيم. اميدواريم خداي بزرگ خود صلح و صفا را در كشور اسلامي ما پايدار و همه ما را در پيروي از قوانين اسلامي و شريعت غراي محمدي «ص» استوار و وحدت و **اتفاق ما را بر قرار و كشور اسلامي و نظام ديني امارت اسلامي ما را از شر كفار فجار بامن و امان خود داشته و بمسؤولين دلسوز و خدمتگزار ما مزيد توفيق عنايت فرمايد.**

جلسه توضيحي و ...

محترم مولوي فقير محمد خنجري رئيس دعوت و ارشاد در رابطه به موضوع صحبت هاي همه جانبه توضيحي بعمل آوردند. مسؤولين و آمرين دعوت و ارشاد وزارت خانه ها و ادارات را متوجه وظايف خطير اسلامي شان در امر اقامه معروف و ازاله منكرات نمودند.

بيش از دو جريب ...

از دو جريب زمين در قريه هاي امام جعفر و خانقاي ملكي آنولسوالي از كشت بته هاي چرس پاكسازي گرديده و به مالكين زمين هاي متذكره توصيه گرديد كه بعد از اين به كشت بته هاي چرس اقدام ننمايند.

د كندز ولايت ...

وروستيو وختو كي د هوا پوهني د رياست د انجنيرانو د پاملرني او فعاليت له امله فعاله او پرون د يوي غونډي په ترڅ كي د استفادي وړ وگرځيده .

په هغي غونډو ، كي چي له همدي امله د كندز په هوايي ډ گر كي جوړه شوي وه ددغه ولايت د ملكي او نظامي چارو يو شمير مسؤولينو گډون كړي و .

پیښې او پرمختگونه / حادثات و انکشافات

كشف بزرگترين كشتارگاه دسته جمعي در كوسووا

در كاسووا نيرو هاي صلح ناتو محل را كه گمان ميرود يك قبر دسته جمعي باشد محاصره كرده اند. به گفته ساكنان منطقه ممكن است. درين قبر تا حدود سه صدو پنجاه جسد از كشته شده گان البانيا بي نژاد دفن شده باشند. ساكنين قريه لوجو بينيچ شب گذشته با مقامات ناتو تماس گرفته و گفتند كه در منطقه به وسعت چند كيلو متر اجسادي را پيدا كرده اند. ناتو همچنان از مسؤولان انجام تحقيقات در مورد جنايات جنگي خواسته است از اين محل بازديد نمايند. در گزارشات اگر اثبات شود كه شايعات و گفته هاي اين افراد درست است. اين بزرگترين محل كشتار جمعي خواهد بود كه تا كنون در كاسووا كشف ميشود.

حيات ۵۰۰ مليون نفر را ويروس پاتيس سي تهديد ميكند

پنجصد مليون نفر از مردم جهان به ويروس الوده اند كه عامل اصلي آن تزريق خون آلوده، استعمال مواد مخدر و استفاده از وسايل طبي آلوده است اتحاديه طبي در آلمان اعلام كرد حدود هشتاد فيصد از موارد اين بيماري زماني كشف شده ميتواند كه به بيماري مزمن كبدي تبديل شده ويروس پاتيس سي پس از ورود به سلول هاي كبد و تخريب سلول هاي آن ـ مرور زمان وظايف مهم و حياتي اين عضو بدن را محدود ميكند و در نهايت باعث مرگ بيمار ميشود.

تهيه و تدارك وسايل حمل و نقل با سيستم كه . . تري جديد

مقامات هوانوردي سنگاپور در يكي از ميدان هوايي آنجـ به كار انداخته اند كه بطور خود كار براي مسافران ميدان ـ سيستم كمپيوتري با دستگاه هاي الكترونيكي كه بروي زمـ شده كه ميتواند شمار تكسي هاي موجود در ميدان هوايي و ـ تكسي را ثبت و به مركز تكسي راني ميدان هوايي مخابره كـ تعداد مسافران در حال انتظار تكسي ده نفر بيشتر از تكـ كمپيوتري آن بطور خود كار به مركز كمپيوتري تكسي راني تكسي هايي كه در نزديكي ميدان هوايي رفت وآمد ميكنند از به گفته مقامات ميدان هوايي سنگاپور بيش از چار صـد هزا هوايي مفاد عايد گرديده است. ـستم كمپيوتري هوشمند را تكسي، تهيه ميكند اين ـسب است مجهز گردانيده ـعداد مسافران در انتظار . ـسب اين سيستم هرگاه ـدي موجود باشد اجزاي ـاپو متصل ميشود و بر ـ: مسافران اطلاع ميدهد ـ. از ـن مدرك به ميدان

مطبوعات باید زموږ...

هيڅ ډول بدلون راغلي ندي . محترم متوكل وويل چي موږ مخكي هم ويلي وو چي اسامه نادركه دي خو دا مو هيڅكله هم نه دي ويلي چي نوموړي له افغانستان نه وتلي دي او اوس هم وايو چي اسامه نادركه دي خو حو خاصو نفرو ته چي هغويته وظيفه وركړل شوي وه معلومات شته دي.

محترم متوكل د يوي پوښتني په ځواب كي وويل چي موږ پخوا هم ويلي وو او دا مو دريځ وو چي له امريكا سره مفاهمي ته چمتو يو او اوس بي هم وايو محترم متوكل زياته كړه چي زموږ په دريځونو كي هيڅ بدلون نه دي راغلي او مطبوعات بايد زموږ خبري غلطي منعكسي نه كړي .

د څلور سوو كيلو واټو ...

هغو مراسمو كي چي له همدي امله په دغه **ولايت كي پر ځاي شوي و د سرپل ولايت مسؤلينو او گڼ شمير اوسيدونكو گډون كړي و .**

په پيل كي د قرآن عظيم الشان څو مبارك ايتونه ولوستل شول وروسته د سرپل ولايت مرستيال محترم ملا حيدر علي حيدري خلكو ته د خدمت په لاره كي د اسلامي امارت د نيكو او عام المنفعه اقداماتو په باب خبري وكړي او ددغه ځاي اوسيدونكو ته يي دا ډ وركـړ چي په راتلونكي كي ددغه شان پروگرامونو په تطبيق سره به ټولي كورني د برېښنا له روښنائي نه برخمني شي.

په پاي كي ددغه ځاي څو تنو اوسيدونكو د خپلو ويناوو په ترڅ كي د اسلامي امارت د دغو نيكو اقدامونو له امله قدرداني څرگنده كړه او د اسلامي امارت له مسؤلينو سره يي د خپلو همكاريو ډاډ وركړ

جزاي تعزيري ...

ضرب ده دره شرعي در محضر عام در چوك مركزي شهر گرديز ديروز بالايش تطبيق گرديد.

در اجتماعي كه به همين مناسبت تدوير يافته بود بعد از انكه آياتي متبركه قرآن عظيم الشان قرائت گرديد مولوي خيال محمد رئيس محكمه نظامي و محترم مولوي عيسي محمدقاضي محكمه نظامي در آنولايت در رابطه به ضرورت تطبيق جزا هاي تعذيري بخاطر عبرت به ديگران و همچنان اهداف و برنامه هاي شرعي نظام اسلامي در كشور مفصلاً توضيحات دادند.

در ختم مراسم حكم محكمه نظامي بالاي مجرم تطبيق گرديد.

د كابل د طب ...

افغاني مهاجرو پوهنتونونو محصلان دي هم جذب شويدي چي د څلوېښتو اكاډميكي ډيپارتمنتونو له لاري د يو سلو شلو تنو استادانو او طبي ماهرانو لخوا لوست ورته وركول كيږي . دغه راز څه د پاسه اوه سوه تنه ځوان ستاژران چي تحصيلي پراونه يي په نظري ډول بشپړ كړي دي د وزير اكبر خان علي اباد ميوند جمهوريت ستوماتولوژي اتاترك، د ابن سينا د صدري او د هيواد په مركز او ولايتونو كي په نورو ملكي روغتونونو كي د متخصصينو داكترانو په لارښوونه تر علمي زده كـړي لاندي دي چي د طبي پوهنځي استادان به وخت د ستاژرانو د كار بهير څاري .

د ميلو سوويچ د ...

قوماندانان وايي چي صربيان كرار كرار خپله عقيده بدلوي او متوجه كيږي چي ميلو سوويچ د دوي د وروستيو مصيبتونو مسؤل دي .

د گډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

تبصره

د كلنټن د حكومت بهرني تگلاره له پيل نه د امريكي د گټو په خلاف ده

د كلنټن د حكومت هڅي يوازي دانه دي چي افغانان له ځانه خوابدي كړي بلكي په سيمه كي بي د امريكي په خلاف ډيري كركي او نفرتونه راپارولي دي، دلايل بي دا دي :
۱- په دې كي هغه ځوك چي له ثابتو واقعيتونو څخه انكار نه لري بيخي شك نه كوي چي د افغانستان اسلامي امارت د خپلو خلكو له منځه راپورته شوي، د خپلو خلكو د خوښي او په زړه پوري حكومت، د خپلو خلكو له كلك ملاتړ څخه برخمن او مشروع حكومت دي: د كلنټن حكومت له پيل نه د افغانستان د خلكو په حكومت (اسلامي امارت) پسې راخيستي ده له بدو تبليغاتو نه را نيولي بيا تر نظامي تيري پوري هر څه بي چي مخي ته ورغلي دي صرفه بي نه ده كړي او تر ډول ډول پلمو لاندي سوړ او تود جنگ دواړه په مخ بيايي، كله د ښځو د حقونو په پلمه، كله د مخدرو موادو په پلمه او كله هم د اسامه بن لادن په پلمه چي د ساړه جنگ له جملي نه يو هم د اقتصادي بنديز اعلان دي، د افغانستان اسلامي امارت په وار، وار ددغو ټولو پلمو په هكله د قناعت وړ توضيحات او دليلونه ورته وړاندي كړي دي خو د كلنټن تگ لاره هر ځل د نرمښت په ځاي سخته شوي ده . افغانان د شوروي تيري په وخت د امريكا د حكومتونو له مرستو نه راضي وو او د قدر په سترگه بي ورته كتل خو له اسلامي امارت سره د كلنټن د حكومت دښمنانه چلند د افغانانو له زړو څخه ټي هيلي جارو كړي او په ځاي بي كركي او نفرتونه وكرل، دا خبره بي له شكه په سيمه كي د امريكي له گټو سره د كلنټن د حكومت ټكر دي، ۲- د مخدرو موادو د مخنيوي په لړ كي د افغانستان د اسلامي امارت د مخدرو موادو د عالي كميسيون هلي ځلي ډيري په زړه پوري او مخلصانه دي له دي امله بي په كمه موده كي او په ډير كم لگښت په تبليغاتي علمي او عملي ډگرونو كي ډيري برياوي تر لاسه او ددغه بشري آفت د له منځه وړلو په هكله بي مړي هيلي را ژوندي كړي. كروند گر دي ته وهڅول شول چي د زراعتي تخمونو او نغدي مرستو په بدل كي د كوكنارو له كرڅخه كرار كرار لاس واخلي! مگر د كلنټن د حكومت د اقتصادي بنديز اعلان په دغه پروسه باندي بو داسي كاري او نه جبيره كيدونكي گوذار شو چي ټولي هڅي او هيلي بي خاوري ايري كړي، دا حكه چي د كروندگرو په زړونو د مالي تنگسيا، نه مرستو او د پخواني لوږي تندي توره خپسه مسلطه شوه اوس به په ډير كم احتمال سره دا تمه ورله كيږي چي دوي به د كوكنارو په ځاي د نورو دا نو اوبوټو كرني ته د زړه له اخلاصه چمتو وي: دغه يو بل دروند گوذار دي چي د كلنټن حكومت د امريكي او ټول غرب بلكي ټول بشريت په گټو باندي وارخوشي كړ.۳- له اسامه بن لادن څخه د كلنټن حكومت په لوي لاس د امريكايانو دښمن جوړ كړ په لوي لاس بي په ويره تر هغه كي راگير كړل. كله خپله سفارتونه تړي او كله امريكايان د افغانستان له سفر نه ترهوي په لوي لاس تشويشونه ورته پيدا كوي او دغه كار د امريكايانو په نفسياتو او روحياتو باندي د كلنټن د اداري كلك گوذار دي . اسامه له پخوا نه په افغانستان كي د يوه عادي مبلغه مجاهد په توگه ژوند كاوه، كه په خوله بي كله مجاهدانه څرگندوني كړي وي هغه به وي مگر هيڅوك داسي ثبوت نه لري چي اسامه د امريكا يا بل هيواد په خلاف عملي گام اخيستي دي په كينيا او تانزانيا كي د امريكايي سفارتونو په پيښه كي د امريكا د جاسوسي اداري د پيښي د اصلي عاملينو په پيدا كولو كي له ناكامي وروسته د كلنټن د حكومت له نيوكي نه ځان وژغوره او د كلنټن حكومت بي وغولاوه، ځكه چي په داسي چاپي لاس كيښود چي د كلنټن د حكومت هيڅ لاس نه ورته رسيږي، د كلنټن حكومت د اسامه په خلاف تبليغات او د افغانستان له اسلامي امارت سره بي د دښمني چلند دواړه يو ځاي پيل كړل، ډير اخطارونه بي صادر كړل اويه دغه پلمه بي د افغانستان په حريم باندي نظامي بلوسه وكړه په اسلامي امارت پسي بي ډير بد تبليغات وكړل، ان تر دي چي اوس بي په افغانستان باندي اقتصادي بنديزونه هم اعلان كړل، د اسامه د نيولو په هكله بي پنځوس لكه دالره انعام هم اعلان كړ او په دغه ترتيب سره يي اسامه د امريكي لپاره لوي هيرو جوړ كړ چي اوس ټول امريكايان وربانديز ويروي، په دغه ترتيب سره بي فغانان هم خوابدي كړل، په اصل كي د امريكا د جاسوسي اداري د خپلي ناكامي د پټولو لپاره د كلنټن حكومت دغو جنجالونو ته ورټيل وادغه كار د جاسوسي دغي اداري په ډيره څيرگنې سره وكړ او لا نور هم د كلنټن اداري ته په دي هكله بي ښسته اطلاعات وركوي تر څو بي په وريښن كړي جنجال كي مصروفه وساتي. كه ، نه! نو د كلنټن اداري له پيل نه بيا تر اوسه پوري د هغو بي ځايه تورونو په هكله چي په اسامه بي لگولي دي هيڅ داسي ثبوت وړاندي نه كړاي شو چي په قضايي او حقوقي اصولو ولاړوي، د كلنټن د حكومت له معتبر ثبوت څخه بي وسي هغه وخت په ډاگه شوه چي د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه د هيواد تر ټولو ستر قضايي ارگان ستري محكمي ته امر وكړ چي په اسامه د تورونو په هكله له تورلگوونكو څخه ثبوتونه وغواړي، د ستري محكمي له ډيرو اعلانونو او زيات وخت مهلت سره سره نه د امريكي حكومت او نه كوم بل لوري وكړاي شواي چي د اسامه د تورونو په اړه د قضايي اعتبار وړ ثبوت وړاندي كړي، د كلنټن حكومت له دغي ناكامي سره سره بيا هم خپلي خبري ته اړم دي او په سر زوري سره غواړي چي دواړه ښځي په يوه موزه كي ننباسي! له دي امله بي اوس په افغانستان باندي اقتصادي بنديز اعلان كړ، د خند اوړ خبره داده چي كلنټن وايي دغه بنديز په افغانانو باندي نه دي لگول شوي بلكي په طالبانو (اسلامي امارت) باندي لگول شوي دي، داسي ښكاريږي چي كلنټن د خپلي جاسوسي اداري بيا غولولي وي او ورته ويلي بي وي چي افغانان په يوه هيواد او طالبان په بل هيواد كي اوسيږي ، كه دا نوي نو د اقتصادي بنديز اغيزه خو په ټول هيواد كي يو رنگه وي بلكي له حكومت نه بي زيات بوج په ولس باندي وي . د افغانستان په څير جنگ ځپلي او وران ويجاړ هيواد باندي د اقتصادي بنديز اغيزه كه ډيره كمه هم وي ډيره ده ، مگر ملي تاجران بي په هيڅ هم نه شميري او ډاډ څرگندوي: د افغانستان اسلامي امارت فكر كوي چي د كلنټن حكومت لا پخوا د ځينو هيوادونو او مرستندويه موسسو په منفي هڅوته سره د افغانستان په هكله اقتصادي بنديز لگولي ؤ مگر اعلان بي ووس وكړ ! د افغانستان اسلامي امارت ددغه بنديز پروا ځكه نه كوي چي يو خو د كوچيانو متل دي چي د اوښ په بار كي د غلبيل شتون او نه شتون دواړه يو رنگه دي، بل دا چي د هيواد طبيعي زيرمي چي - الحمد لله د نړي له غني زيرمو څخه گڼلي كيږي او هم بي ساري او پريمانه زراعتي ځمكي اوس مخ په فعالېدو دي، افغانان به ډير ژر په خپل ځان بسيا او افغانستان به د امينو او پرهيزگارو واكمنو په لاس ډير ژر پر مخ تللي هيواد جوړ شي، انشاء الله تعالى؛ ٤- د كلنټن د اداري كړه وړه د سيمي د هيوادونو په هكله هم د امريكي گټو ته لغته وركول دي د چين سفارت په يوگوسلاويا كي د ناتو د الوتكو له خوا بمبارېدل د چين حكومت د امريكي له لاسه بولي او د كلنټن حكومت له پخواني ناوړېخوالي سره سره لا تر اوسه د چين د مشرتابه په چلاښه كي پاتي راغلي دي؛ پاكستان د امريكي پخواني ملگري هيواد ؤ خو د كلنټن حكومت له پاكستان څخه د هند په لوري مخ اړولي دي، په تيره بيا د كشمير په هكله د كلنټن وروستي څوښتني چي د پاكستان دي له كارگل نه خپل پوځ بيا جنگبالي وباسي. د پاكستان په تگلاره نه جبيره كيدونكي گوذار دي، ځكه چي د هند هغه ادعابي تاييد كړه چي وايي : په كارگل كي د پاكستان پوځ د هند په خلاف جنگيږي ، په داسي حال كي چي ټوله نړي خبره ده چي په كشمير كي كشميري مجاهدين اعلا كلمة الله او د كشمير د ازادي لپاره قرباني وركوي. لنډه دا چي د كلنټن د حكومت بهرني تگلاره چي د كلنټن په شخصي عقدو او ددو په نفسياتي ناروغتيا ولاړه ده د امريكي د گټو په خلاف چلېږي له دي امله امريكايي سناتوران هم نيوكي وړاندي كوي، كه چيري د امريكي ولس بي مخ نيوي ونه كړي په نړي كي به امريكي ته ډير دښمنان پيدا كړي .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press